څوک چې د الله تعالی سره پداسې حال کې مخ شو چې هیڅ شی یې ورسره شریک کړی نه وي نو جنت ته داخل شو، او څوک چې ورسره مخ شو او څه شی یې ورسره شریک کړی وي، نو اور ته داخل شو» [9]

له جابر بن عبدالله رضي الله عنهما څخه روایت دی چې وایي: ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اورېدلي چې فرمایل یې: «څوک چې د الله تعالی سره پداسې حال کې مخ شو چې هیڅ شی یې ورسره شریک کړی نه وي نو جنت ته داخل شو، او څوک چې ورسره مخ شو او څه شی یې ورسره شریک کړی وي، نو اور ته داخل شو» [9].

[صحیح دی] [مسلم روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم خبر ورکوي چې څوک پداسې حال کې مړ شو چې له الله تعالی سره یې شرک نه وي کړی نو ورتګ یې د جنت لورې ته دی، که څه هم د ځینو ګناهونو سزا ورته ورکړل شي او څوک چې پداسې حال کې مړ شو چې له الله تعالی سره یې شرک کړی وي نو اور کې به تل پاتی وي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3418